# تورات شریف

# تورات شریف

خپروونکی: یونائیټډ بایبل سوسایټیز
د چاپ شمېر: ۲۰۰۰
د چاپ کال: ۱۳۸۹ \ ۲۰۱۰
د ISBN شمېره: ۹۷۸۹۹۳۶۹۲۵۰-۸۴۳۹

# سریزه

تورات شریف د پیدایښت څخه شروع کیږي. په دې کې دا بیانیږي چې خدای پاک دنیا څنګه پیدا کړه او خلک یې څنګه پیدا کړل (پیدایښت ۱ - ۵). په دې کې د حضرت نوح او د سیلاب قصه او دا بیان راځي چې ولې مختلفې ژبې موجودې وې (پیدایښت ۲ - ۱۱). په پیدایښت ۱۲ کې د خدای پاک د قوم (چې وروسته د اسرائیلو په نوم مشهوره شوه) قصه له دې څخه شروع کیږي چې خدای پاک حضرت ابراهیم او د هغه ښځه سارا د دې دپاره انتخاب کړل چې هغوی خپل پلرنی وطن پرېږدي او نوي وطن کنعان ته لاړ شي. خدای پاک د حضرت ابراهیم سره وعده وکړه چې د هغه د اولادې څخه به یو لوی قوم جوړ شي او آخر به کنعان د هغوی کور شي (پیدایښت ۱۲: ۱ - ۳، ۱۷: ۱ - ۸). د پیدایښت پاتې برخه دا بیانوي چې د خدای پاک هغه وعدې چې د حضرت ابراهیم او سارا سره یې کړې وې هغه څنګه د هغوی د اولادونو په ژوند کې عملي کیږي.

څنګه چې هجرت شروع کیږي بیاهم هغه وعدې نه پوره کیږي ځکه چې د حضرت ابراهیم او سارا اولاده په مصر کې د غلامانو په توګه ژوند کوي. خو خدای پاک د قوم فریادونه چې د کومک دپاره یې کوي اوري او حضرت موسیٰ انتخابوي چې قوم د مصر څخه وباسي (هجرت ۳: ۴ - ۱۲). همدا مهمه پېښه ده چې د هجرت په نوم مشهوره ده او دې کتاب ته یې دا نوم ورکړی دی. په مصر کې د اسرائیلو د غلامۍ وخت د

راتلونکي نسل د پاره يو يادګار شو. کله به چې د اسرائيلو قوم ځورېده او ظلم به ور باندې کېده نو خدای پاک به په هغوی باندې پام کاوه. نو هغوی هم بايد د نورو سره ښه رويه وکړي په خاصه توګه د غريبانو او بې وزلو خلکو سره بايد د انصاف او عدل له مخې چلند وکړي (هجرت ۲۳: ۲ - ۹، لاويان ۲۵: ۳۵ - ۳۸، تثنيه ۵: ۲، ۱۲ - ۱۵).

په هجرت کې دوه همه مهمه پېښه هغه لوظ دی چې څښتن د حضرت موسیٰ او اسرائيلو د قوم سره د سينا په غره کې وکړ. په دې لوظ کې خدای پاک قوانين او حکمونه ورکړل چې قوم به رهنمايي کړي چې څرنګه ژوند وکړي او څنګه عبادت وکړي. خدای پاک هغوی انتخاب کړي ؤو او د مصر څخه يې راويستلي ؤو. د سينا په غره کې خدای پاک دا خبره روښانه کړه چې د اسرائيلو قوم بايد څه وکړي ترڅو دا وښايي چې دوی د هغه مقدس خلک دي.

دا قوانين او حکمونه په هجرت ۲۰ - ۴۰، په لاويانو، د شمېر په يوه برخه کې او په تثنيه کې د حضرت موسیٰ په ويناوو کې پيدا کيږي. د شمېر پاتې برخه د هغو کلونو په باره کې خبرې کوي چې قوم په دښته کې وعده شوي وطن ته په سفر کې په سرګردانۍ کې تېر کړي ؤو.

په شمېر کې چې کوم بيان راغلی دی هغه دا څرګندوي چې حتیٰ په هغو وېروونکو کلونو کې چې قوم په دښته کې تېر کړل څښتن په هغوی باندې پام کاوه. تورات شريف په دې پای ته رسيږي چې د اسرائيلو قوم په موآب کې کنعان ته مخامخ د اردن د سيند په بلې غاړې باندې خېمې ودرولې او دې ته تيار ؤو چې هغه وطن ته ورننوزي چې خدای پاک د هغوی د نيکونو سره وعده کړې وه.

# د تورات د کتابونو فهرست


**پيدايښت ............................................ ۱**

**هجرت ............................................ ۲۰۰**

**لاويان ............................................ ۳۵۸**

**شمېر ............................................ ۴۲۸**

**تثنيه ............................................ ۶۰۹**

Holy Torah in Pashto (Nangarhari Dialect)
© UBS 2010 Print run: MM
ISBN 978969250-8439